



Ketabton.com




This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers t

L.No.15
15/

# جہان زیبی

## مشاعرہ

۱۹۵۴ء

۱۲ / دسمبر

باہتمام

# سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگورہ سوات

G.H.S.S. Kabal

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۴۸۶

# جهان زیبی

# مُشاعِره

زیر سرپرستی سیف الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date:
KABAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهید کتاب

چونکه سنځکال د حضور اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبد الحق جهان زیب خان
صاحب حکمران ریاست سوات دام اقباله، د
جشن سالګرۍ سنه ۱۹۵۷ء د ۱۲ د سمبر
پځقله جوړیږي د خوک وطن بناغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقي یو ځلور طرحې د ځپل فکر
د نتائجو نه منتخب کړې په هغوی باندې ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا دا مونږ د یو مجموعې په طور په خدمت د حلقهٔ احباب
او د ناظرینو د جشن کښې پیش کوو:-

(گر قبول افتد زہی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# د نظمونو فهرست


| نمبر | نوم د شاعر او د هغه نظم | مخ | نمبر | نوم د شاعر او د هغه نظم | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صدیقی | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمان حبیب صاحب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب. کراچي | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکری | ۴۷ | ۱۷ | خانی قصاب صاحب | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوش | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | د ناظر سوی په خدمت کښ | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوی ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | د عقیدت ګلونه | ۱۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سواتی

## طرح

یو زه یوازې نه یم چه په دې یم خوشحاله

را زه تماشه او کړه هر طرف ته ځما الله
یو زه یوازې نه یم چه په دې یم خوشحاله

را زه تماشه او کړه د اقبال ختلې نمر دے
مولیٰ په لوئ احسان راکړے دادر یم اختر دے
خوشحاله قام په دې چه جهانزیب د دوی رهبر دے
بل کوره ځما وروره چه نن باتره د سمبر دے
هم رو به ترقی دوی دا جشن کال تر کاله
یو زه یوازې نه یم چه په دې یم خوشحاله



اوس جوړ د ترقۍ ځونږ د پاره دي اسباب
ختلې په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
داتول د ده همت دے ځان خبر کړه د احواله
یو زه نه یم چه په دې یم خوشحاله

صحت درله درکړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دې ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق مونږه ته منظور دے
د قوم د ترقۍ خدمت د نور علیٰ نور دے
ښهرئ د دوړی شو له بهتر د زرین شا له
یو زه یوازې نه یم چه په دې یم خوشحاله
وطن د باغ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

PUKHTO.NET

نا شکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے

اصیل به خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے

حصه د منافق دلته هم هلته کښې نیران دے

محروم به ژوند کښې نه کړے صدیقي د خپل وصاله

یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

---

طرح

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پتنګان را غله په شمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالي ده په هر لور

هر خوا ته نظر او کړه چراغان دي کور په کور

غنچې شنے د خندا نه پړے بلبلے کوي شور

دعا کوي سلطان ته چه نے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یې شته د بل نه طمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالي ده په چا نشته درد و غم

دعا کوی الله ته د خپل والئ اعظم

ادیب شاعر چه وهاند کړه قرطاس ته خپل قلم

اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو زر شه ختم

جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د جا لمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے

دا هم د خدائ د لورې یو مونږ فضل عنایت دے

خندیږو، خوشحالیږو په هر ځائ ځمونږ وقت دے

غمخوار د هر یو کار پخپله غازی ملت دے

په تا چه څوک خفه وی ما رب دِ زر تر زره کړي قمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نن او نه کړی دا بد بخته بې کردار دے
خلاف د اولي الامر په تحقیق کښې ګناهګار دے
تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے
صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا بکار دے
حق وایه صدیقی حق ته دِ تهیک و نسیه سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

داسے تجربه م په تحقیق کښې د احساسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړے د فکر ځان ته نن او د پرون اوکړی
فرق په رشتیا دِ د وصال او د بیلتون اوکړی
بل د ذره په سترګو دِ کتنه د ګردون اوکړی
شکر د الله دِ په دے عهد د مامون اوکړی



ستره چه ماضي ځمونږ د حال د انعکاسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

نښته یو مثال چه به وِی دا دورو دوران د چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران د چا
نه به زیب زینت لکه ځمونږ وی په جهان د چا
داسے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران د چا
لویه تجربه دِ د لقمان او بلینا سه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے
ښکلے کور په کور چه انتظام دِ د تنویر کړے
هر ځائے کښې انصاف دِ د غریب او د امیر کړے
ځکه خَیرُ النَّاسِ مَن یَّنفَعُ النَّاس ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائ ګوره انسان وي دې به فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کاټینات کوي
ځکه هر یو کس په دې خلوص صدق صفات کوي
هر ځائ اورېدلې صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

محفوظه خزانه وي چه پلاس کښې د آمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغواړي بل ترې لرې کړي زاغان
زاغ و زغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران



ګویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

مشهور به په تواریخو کښې دې عدل جهانګیر
تړلې د انصاف د پاره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وټیل به ئې فریادي ترا تر اوده کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یاد یدلې به تحسین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا د یقین شي

یو څو خبرې واوره ته د غازي ملت
رښتینې نګهبان دې د خپل ملک او رعیت
پخپله د سپاهي پښتان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هر ځائ په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که د یقین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دہ پہ برکت باندِ وطن ځمونږ سمبال دے
هر یو ته پہ خندا دے هر یو کس ته پہ نیک خیال دے

دَ دہ دے نظم نسق ته هر یو سړے لیوال دے
تعمیر دَ صدیقی پہ دے زمان کښی بومثال دے

ممد او معاون دِ دَ دہ رب پہ هر یو حین شی
دروغ نہ دی رشتیا دی پہ رشتیا کہ دِ یقین شی

---

# سیف الملوک صاحب

## صدیقی۔ سیدو شریف

PUKHTO.NET



# فضل الرحمٰن فیضان شاعر و خوشنویس
## ریاستِ سوات

---

طرح

یو زہ یوازے نہ یمہ پہ دے باندِ خوشحاله

---

راز ہ کله راز ہ چہ دِ خبر کړم مہ دَ حاله
دا نہ چہ بیا ځمانہ تہ کله کوے صباله

نن بارہ ۱۲ دسمبر سترگے وړی ځمونږ پلور
یو ناوے دَ مکیز دا خله شوه ځمونږ پہ کور
گلونہ دَ عشرت دَ زړہ پہ باغ کښی شو سمسور
دَ سوات پہ گلستان کښی بلبلان گڼه شو پہ شور

خوشحاله خوشحالی دَ ہ نن دَ هر سړی دَ خیاله
یو زہ یواځے نہ یمہ پہ دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
میدان د تصور ته ور دننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکے لکه غواص شوم
خارج م کړه لعلونه چه قبول ډک دئ له کماله
د شاه د تاجپوشئ په تاج جوړاوم کړه لالا له

نن جشن د حضور دے که د نوي اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بشکلے یلو شه ده سرو هې پوره په کال
یا داچه په هجران پسے مدام راځي وصال
نن جونه د جشن تماشے کړي د دیواله
نوي دنگے غږانگے سره جوړ کړي د سوشاله
دا زه یو وازے نه یم په دې باندې خوشحاله



د خیال په آئینه کښې درته ښنا یم یو تصویر
په هوش شه هسے نه چه شے د ځا یه هوا گیر
د سحر د جادو نه درته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان** خپل تخیل کړو د شاه مینے ته لیواله
الفاظو ئې په زخم د زړه کینسوده دسماله

---

## طرح

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

یو ورځ زه د سیل د پاره تلے وم صحراته
گلشن د خوشحالئ کښې گرزیدم زه هر خواته
یو زیږ عجیبه بهار په غوږ کښې اوږے ماته
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سوات پہ گلستان کښې نن چغیږي بلبلان

محفل تہ دَ ادب واړہ غونډیږي ادیبان

پہ یادو دَ سلطان کښې مشغولیږي شاعران

دَ جشن پہ جوبن کښې بیا او بیا کیناستہ جمع

طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

دَ بارہ ۱۲ دسمبر تاریخ بہ یادوي پہ هر حال

چہ داسے سالگرہ یکښې کیدیشي هر کال

خوشحالہ خوشحالي دہ نن دَ هر سړي پہ خیال

دَ جشن پہ دے شپہ کښې تر صبا کیناستہ جمع

طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

دَ جشن فریدون او دَ نوروز نہ دَ جمشید

حمونږہ جشن زیات دے دا حمونږہ دے یو عید

آزادہ آزادي دہ یکښې نشتہ دَ غم قید

PUKHTO.NET



یو شکلي محفل کښې شاہ گل کیناستہ جمع

طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

یو سیل دَ تماشہ دہ هر ځاي هر مکان

تاریخ تازہ کول دي نن دَ سوات دَ حکمران

دا حکمران راغونډ شولوي واړہ زاړہ ځوانان

دَ دې خوشحالي نہ پہ رشتیا کیناستہ جمع

طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

دَ اُنجاس نہ دَ چوّا پورے اوشو داسے یاد

پہ بارہ ۱۲ دسمبر کښې حاصلیږي حمونږ مراد

فیضانہ حکمران دِ حمونږ تل وي زندہ باد

نن عام وخاص دَ بارہ دُعا کیناستہ جمع

طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

## طرح

### هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد دِ رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسے دِ دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه څه بیان وته
هره نتیجه دِ د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یې دا سے مسیحا یې ته
چو ته مړه ور نه یې خو هر چا نه بخلا یې ته
هم څمونږ د غم د شپې د پاره یو صبا یې ته
هره فائده ستا څمونږ د پاره بے قیاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات وطن آباد شه ښه
علم دِ ازده کړه ورنه جهل نه آزاد شه ښه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښې یاد شه ښه
دا د سوات اتو نه څکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقۍ په عروج جوړت کړه ریاست واړه
څکه د لتا نه ټول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه کیاسه ده
هر سړی مومند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر دِ مبارک وی ستا
ډیره خوشحالی دِ اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستورے د اقبال دِ تل روښانه په فلک وی ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET

دا دُعاء څوَنړه ستا په حق کښې بے وسواسه ده
هُرسړے موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تهٔ دِ زندهٔ بادې حکومت دِ ستا مدام وِی تل
سوړے دَ رحمت دِ ستا پمونږ علی الدوام وی تل
هم دِ دَ **فیضان** حقیر پیتا دعا سلام وی تل
دا بنا دی شروع څوَنړ دَ اُنیس سوَ اُنجاسه دَه
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح

درو غ نهٔ دی رشتیا دی به رشتیا که دِ یقین شِی

---

تو ردِی که سهٔ شنه دی هم که زیړ دِی او که سپین شِی
دا که په یو رنګ شِی نو بیا جوړ به تر آئین شِی



راشه دوَ رنګی پرِیده په یو رنګ شهٔ رنګ شه
تهٔ کښې عاشق نو دَ آشنا دَ در ملنګ شه
زر شه دَ باطل دَ پاره غشے دَ خدنګ شه
دوست به دِ خوشحاله شِی دشمن به دِ غمګین شِی
دا سے کارنامے به دِ بیا لوړې تر علّیین شِی
ځان دَ اِتحاد په رسی اُوتړه محکم بته
زهر دَ تفریق دَ مینځ نهٔ واړهٔ کړه مدغم ته
زرهٔ دِ به چاړهٔ دَ شاهٔ دَ مینے کړهٔ قلم ته
ځوک چه دا سے کار کړی به رشتیا سهٔ نازبین شِی
دا خو دروغ نهٔ دی به رشتیا که دِ یقین شِی
راشه دروازه دَ یقین اُو وَهه په زوره
ځپل یقین دِ خاص کړهٔ بیا هله لمتوه نوره
ولے ته دیدهٔ او دانسته ګوځے شمکوره

Govt. Higher Secondary School
Acc No—
KABAL SWAT

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي

تريخ نه وي بيا خلقو ته ډېر ځوک لکه ګبين شي

ته په صداقت د جهانزيب د در غلام شه

ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه

ځو به يې بدنام ته د وفا به نوم نيکنام شه

مخ په صدق ونيځه چه روښانه د جبين شي

PUKHTO.NET

هله به بيا روڼ د زړه ته د يار د مخ آئين شي

خيال کړمه مجبوره زه په دې معما کا نو

دا تشې قصې نه دي که وا وري هوښيارانو

دا يو معمه د مطلب ده که ده يارانو

وائي **فيضان** تا سو ته که پوهه پرې دوربين شي

کوزه با يه بره، بره کوزه د خودبين شي

---

فيضان سواتي عفي عنه، سيدو شريف



## ښاغلی حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

---

### طرح

يو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

---

نن باره د دسمبر دې هر سړی کړي چې له خياله

بو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دې هغه مياشت د دسمبر

ختلې چه پر تخت وه والي صاحب بهادر

هر چا ته هر سړی راځي خوشحاله په نظر

دا زياته خوشحالي ده پرې رسيږي د بل کاله

يو زه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له دَ والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه پرے کړمه خوشحالی

دَ سیال سره چه سیال نه دِی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره پرے دَ ورځ ویم بد حاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا ورځ دَ خوشحالی ده نن دَ هر یو مسلمان
هر ځائے کښ خوشحالی ده په هیچا نشته خفګان

تاریخ دَ تاجپوشئ چه دے ځمونږ دَ حکمران
وه چه زبون حاله هغه نه دے زبون حاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

دا ورځ دَ خوشحالئ دَ اهلِ سوات و دَ اقبال
دَ باره (۱۲) دسمبر ده مبارک که دَ دے کال

ده دا سے خوشحالی لکه دَ عیده په هلال



دا باره دسمبر پکښ تاریخ وینم نیکفاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

آمان دَ انقلاب نه ځمونږ دِ حکمران وی
دنیا کښ ترڅو پورے چه دا زمکه دا آسمان وِی

هم دا سے دِ په قام باندِ مشفق ځمونږ سلطان وِی
دُعا دَ حبیب داده اے خالقه لایزاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح

## طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښ په خندا کیناسته جمع
نن باره دسمبر دے شاه ګل کیناسته جمع

دا باره دسمبر یو لوی اختر دے دَ اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ھر یو سړی تہ کور م چہ کوی خندا ھوس
دَ دې یرے خوشحالیٔ نہ پہ ھر ځائ کښې دَ مجلس
حسد او کینہ لاړہ نن اعدا کیناستہ جمع
طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

بے حدہ خوشحالی دہ ریاست کښې کور پہ کور
چہ ورځ دَ تاجپوشئ دہ دَ والی صاحب غمخور
پہ زیاتہ خوشحالیٔ لہ کتہ باخیدہ رنځور
آغوستے جامے خلقو زیبا کیناستہ جمع
طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

تول خلق راغونډ دَ خوشحالیٔ شو پہ میدان
ھر یو کړي خوشحالي پہ تاجپوشئ دَ حکمران
پہ ھر کلي دَ سوات کښې پہ ھر ځائ پہ ھر مکان
محفل دَ خوشحالیٔ کښې یار آشنا کیناستہ جمع

PUKHTO.NET



امیر دے کہ فقیر دے کړے ھر یو را انتظام
عیشونہ دی جلسے دی ، دُعا کانے کوی قام
څوک چہ بے آرام وہ ھغہ وینم پہ آرام
پہ خوان دَ دے سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناستہ جمع
طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

ښکاریږي ھر طرف تہ دروازے ښې مزہ دارے
حیران ښي پہ دے ورځ چہ مسافر دروہي پلارے
نور وائي مسافر خنکہ اختر شہ پہ تلوارے
حبیب وائي کاروان تہ پہ سودا کیناستہ جمع
طوطیان پہ گلستان کښې پہ خندا کیناستہ جمع

---

## طرح

ھر سړی موند لے لو یہ برخہ ستا دَ لاسہ دہ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضوره ما ایستلے بادشاهی ستاسو قیاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

موندلے لویه برښه هر یو کس لتا سلطانه

احسان مالی جانی کوے د هره مسلمانه

بیا خاصکر په عاجزو بے حده مهربانه

هم ډیر د احسانونه هم جزا دِ سمی لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم دِ حکمرانه سخاوت دے

لایق د ډیر تحسین د آفرین دِ حکومت دے

د عدل د انصاف دِ په کلی جهان شهرت دے

ستا فیصله هره د میزان او د قسطاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړے په انصاف عدل پسندے



پر دے نوم د انصاف په تمامی جهان سر کندے

موصوف په دے اوصافو په چترال په دیر دربندے

تعریف دِ د دنیا توله کړی د لاندی کملیاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دِ وی حاکم چه ورپکښ عدل انصاف وی

صدق چه له بله و د رشوته څخه صاف وی

مجرم چه جرم اوکړی په اقرار بانڈِ معاف وی

له دے نه چه خلاف شی بیا توبه دِ د خناسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دِ خه نصیب کړه زیات له دے نه بنه اقبال

چه کړی مظلومانو ته په انصاف عدل خوشحال

محصون دِ له گردش د انقلابه او سه آل

دعاء د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن بارہ د سمبر دے تاجپوشی دہ حکمرانه
دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس و ینم شادانه
دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالی د کال د هر یوې د پاسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

د احبیب له صدقه خیل مالک ته بیرته سوال کښی دی
تل د تضاعف د سالګیرې دے کال په کال کښی دی
بل د نیکنامۍ غرض دے هر زمان په خیال کښی دے
دالا رد نجات هر مسلمان له بی وسواسه ده
هر سړی موندلی لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی



سوات ته چه خوک راشی پوهه رحمت د رب متین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

لا هر چه یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت ته
دی په خوشحالۍ مظلوم راضی مظلوم غمګین شی
زغلی عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال د دوی قبلیږی ډیر خفه ظالم بیدین شی

په سوات کښی مساوات د معتبر او د غریب دے
حق رسی دے کیږی که خوک خان او یا مسکین شی
زیات له موره پلاره مهربانه شاه په قام دے
بیا په کومه وجه رعیت به تر غمګین شی

نن په انتظام باندے خوشحاله رعیت دے
نه غواړی هیڅکله چه بدل دے دا آئین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وی
د شاه نه چه خلاف شی هغه رور د شیاطین شی

د غلو شو کمارو نشته مسافر ته خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالین شی

حبیب والی نصیب دی د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرشتو دی ترې آمین شی

---

حبیب الرحمن حبیب

گالوچ - سوات



## ښاغلی امیر حیدر صاحب بونیری

## ریاست سوات

---

طرح

یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

---

یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
دا باره دسمبر دې خدای محفوظ کړی دراوالله

یوزه یوازې نه یمه خوشحاله بلکل جهان دے
د سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دے

مرغی والی سندرې چه دا خلک امن آمان دے
مولی دی په ښادی لوی دا کال تر بله کاله
یوزه یوازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

مولی دی په ښادی سره لری د والی ذات
ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله دی سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستي دي صفات
قدم نقش قدم ئې هر یو ډک دے د کماله
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله

قدم نقش قدم ئې زړو په ده د اسلام
اسلام هغه اسلام وي چه ئې درست خیر ئې انجام
انجام د نیک خویونو په والي کښې دي تمام
د ملک او د ملت خیر نه ده ترې محاله
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله

د ملک او د ملت په محبت کښې وي غرقاب
د خوارو غریبانو په خدمت کښې وي غرقاب
قانون ئې شریعت دے شریعت کښې وي غرقاب
آوازې ئې د توحید دے او ریډیلے د بلاله
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله



آوازې ئې د توحید دے او ریډیلے برابر
خدای رسول ته درست وي هغه او کړي مقرر
پورزے د باغچې بلورے تله امیر حیدر
بلبل ته گل ویلو چه به ته راځې صبا له
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړي
گل خاندي خوشحالیږي څوک د خپل جوش نعرې کړي
گل د گلو اخلي پرے محوکے دواړه سره کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان په تېښته لاړه په بېديا کيناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد د صبا راشي پاڼې خاندي قوالي کړي
نعرې د زنده باد کړي زنن باد چه د والي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کيناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې مصلحت کوي د عيش
هر يو په خپله ژبه اشارت کوي د عيش
دنيا کښې په دنيا خلق صفت کوي د عيش
ټول قوم مخامخ د رهنما کيناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع
محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کستل



...ه د والي به مساوي نه وي څوک بل
...لوس کښې د ښادۍ ټوټې داد کيناستې جمع
...طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع
...فل کښې خوا په خوا آشنا کوي منډ کور
...زړه د خوشحالۍ نه معلومېږي مخ ضرور
...ابارة دسمبر د سالګرۍ کېږي دستور
...ميدان کښې مجلسيان په رضا کيناسته جمع
...طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع
...فل کښې خوا په خوادي د يو بل نه تپو سو نه
...حق کښې د والي غواړي دعا ټول اولسونه
...خلوق کړي د خپل توانه خيراتونه مجلسونه
ياران د امير حيدر لاس په دعا کيناستي جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناسته جمع

## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برښه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
دا خبره هم هر چا وښکلے دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښی ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښی ده
ما هم اوریدلے دا وینا دَ عوام الناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
ما هم اوریدلی چه دَ قوم خان خادم کیږی
ته خدمت دَ قوم کړے، نو چه خان حاکم کیږی
تلے دا فقره دَ فکر پورته دَ وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده



دا فقره دَ فکر پورته ستا دَ وصف ده
نده باد نغره هم هر یو لورته ستا دَ وصف ده
عدل کړے انصاف کوے دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
عدل کړے انصاف کوے نو چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شه داسے نور قومونه شته
ښکل په اخبارا تو کښی لیک دَ حق شناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
رست په اخبارا تو کښی لیک جهان زیبا ئے ته
حکه مهربانه په عاجز و غربا ئے ته
تیزه رسائی دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده
تیزه رسائی دَ عقل ستا په سیاست کښی ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

PUKHTO.NET



ورک دې چغل خور شي د چغل وینا نخاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ورک دې چغل خور شي د چغل وینا اثر نه کړي
بل طرف ته کوج به هیڅ امیر حیدر نه کړي
دا مې عریضه په دسپر د التماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح ۳

## دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا کړه دې یقین شي

---

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا کړه دې یقین شي
لال نشي پټیدلے که په ایرو زیر د زمین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا یقین یکار دے
یقین د مسلمان د پاره ښه ښکلے کردار دے



جائز به ناجائز که چه بدل کړي گنهګار دے
رښتیا به خنګه پټ شي یو سړے که نکته چین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا کړه دې یقین شي

رښتیا چه پټوي دا پټول ګناه عظیم دے
سوات والي ته خپل استاد د خو کړے تعلیم دے
پادشاه نن دے د انصاف منصف مزاج عقل سلیم دے
هم دا سے نور قوم مو لره امام دې جوړ آمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا کړه دې یقین شي

هم دا سے نور قوم مو لره دې شي امام ښکاره
غیرت په شجاعت کښې د آغستے نام ښکاره
رښتیا کښې کوته په کوته باندې چه شي اسلام ښکاره
بیدار شي هغه قوم چه باشلئ نیک حسین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا کړه دې یقین شي

بیدار شی هغه قوم چه نیک خویه ئې حکمران وی
خدمت چه د مخلوق کوی په دې رب مهربان وی
هغه زمکه او غروونه کانړی لوټې ګلستان وی
په چا باندې نظر چه د جل رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

په چا باندې نظر چه وی د رب هغه عادل وی
هغه تر مرتبې د خو اخلاقو هم حاصل وی
د سوات والی ښاغلی خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښې ځما چهاپه مضامین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې ښادئ دی
دشمن دې ئې ذلیل شی چه په زړه ئې ناسوئ وی
آزاد خو د غړزوندې بل به څه د آزادئ وی



په غیر د شریعت نه که قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

په غیر د شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
قصور دے د نادانو د دا ناوه قصور نشته
...ینا کوم د ځانه ماتر دے کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر دِ مولی نه کړی چه غمګین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

## امیر حیدر بونیری

# بنا غلے ایاز صاحب د کراچۍ نه

## طرح ۴۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

پرون "د پښتنو" "ن" په خندا را غلو صبا له
زیرے د ښادۍ ګوندے هُدهُد راوړو سبا له
غر د سلیمان د ننګه غرۍ ولاړ صدا له
پیغله د آئیلم بیا جوړه شوے ده ګڼا له
بخت او تخت او تاج د ځلمو توب ځنے زا ریږی
که ناز د پښتونخوا باندِ نازو نړدی نازیږی
تقدیر به ګښا سدے او تدبیر ولاړ پرکاله
فطرت په سرو منګلو کښې حِنا اوړه حیاله



نختر په نورانی غنګ کښې ضیا راوړه ضیاله
نشے له مستیو ډکے د صبا راوړه صهباله
الله یار او تدبیر دواړه له مړانے قربانیږی
ښادی له خوشحالئ نه په جامو کښې نه ځائیږی
فردوس د پښتنو غوړیکے پښتونخوا له
رضوان زیرے وړکړے هسے رنګے د دنیاله
وګړو نه د ښادۍ د کوړے لرے ښن هرچاله
حیرت هم اِرادو د مشیت ترے د دوچاله
ځلمی پښتون آدم تر خلافت سپارلے کیږی
هواده د هیواد چه د ښادۍ په تال زنګیږی
خیبر چه چا خبر کړه د دے هسے رنګ احواله
وې بوئی یم په دې بوئی یم وجو بیار اغلو خلاله
کمال د پښتنو و زیږیدونکے له زواله
کمال هسے کمال چه تکمیل مومی له کماله

غازی چه تا ته ګوړم ننګیالی م را یادیږی
جهان زیبه! تا ته ګوړم ابدالی م را یادیږی

مبارک دِ شه دا جشن ئے په سیالو کښې بے سیاله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
پښتو په ګډه سره چه ئې واک دراغلو تاله
ښادی به وې نه کوی چه بخیله شوه واکواله
واړه پښتانه به هر وطن کښې خوشحالیږی
نوبت چه نن دَ سوات په سر دروکښ ستا غږیږی

---

## ایاز کراچئ



# ښاغلے عبدالمالک صاحب فکری

## تندوډاک - سوات

---

طرح مـا

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

مرحبا فیض مونږ له دے بیل بیل ستا دَ اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دَورِ باکماله
سوات دے که بونیر دے دواړه خلاص شو دَ جنجاله
سوال ستا دَ عروج کوی هر څوک دَ ذوالجلاله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
سوږ دَ رحمت ئې قام له کوړے لارے صافے
ر ظلم دِ وړک کړه فرشته چه دَ انصافے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلے مکمل وِی، نه کړے لا...
وړاندِ ے هر سوئے استا په اقبال شه دَ خپل سیاله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

لوړه، که جوړه ده، که خټ دے که ګمرد...
کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غرد...
هر ځائے غوړیدلے ستا دَ عدل ښه څادر...
نشته منزری هغه بیزو وَ ترلیواله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

ژمے وِی، که اوړے یکښی هر څوک خپ مزے کوِی
یره تر هم نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی
اَمن او آمان دے اے فکری نه څوک ګیلے کوِی
قام دَ سواتَ دَ علم په دولت شه مالا ماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله



## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښی په خند اکیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښی په خند اکیناسته جمع
...ش رت چه دَ خزان وریکښی اُوکړه قلع قمع

...اره ن دَ بهار په ښه موسم شهٔ ګلستان
...ق دَ حده زیات شو غوټو اُوسپړ دلو ځان
...ګل شهٔ په خند اچه پسرلی اُو کړو اعلان
بلبل هم نغمه زن شه دَ وصال دَ ګل په طمع
طوطیان په ګلستان کښی په خند اکیناسته جمع

...افان دَ باغ لاړهٔ، مهربا نه شته خاوند
...سیاد وړک شهٔ ظالم نغمے غږیږی خوند په خوند
...ستی کوِی خوشحال دی پرند چرند په ژوند

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دِی هرچا بیاموند له نفع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر د
داورځ د سعادت ده ښکلے دور بختور د
وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر د
رڼا د قمقمو ده هرځائے بله ده هم شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی د غازی نه په ښه شان سره قومو
په دور جهان زیب باندِ او باسی تل شکرو
فکری یوازے نه هر یو منصف وائی حالو
فیضیاب نے په فیض سره هرڅوک دی نشته منع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح ۳

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
واصلا ځما نهٔ، بلکه دا د عام الناسه ده

ښ موندلے چا نه دے؟ څه و هر څوک دی؟ وایه
ل په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائے؟ خدا یه
ښت په کوټ او کوره حال احوال، نهٔ چه د دورایه
نوره د انصاف دِ تیره زیاته د الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

کر د اکبر دِ سوات پټا باندِ روښانه شهٔ
م نښان اوچت نے دومره زر چه د هرچا نه شهٔ
اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شهٔ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کمال دَ دے دَ چه منګول پرے ستا الیاس دَه
هر سړی مومندے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

ن دَ قام دَ پاره دلته هر ځائ اسکو لو نه دِی
نُو ردَ ترقئ هم ستا دَ وړاندِ اسکیمونه دِی
هر خوا ته موجود ستا دَ تعمیر نښه مثا لو نه دِی
دے دا حقیقت، هسے خبره نه دَ قیاس دَه
هر سړی مومندلے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

لاس په نام و لاړ فکری دُعاء ستا دَ اقبال کوی
مراد دِ ستا حاصِل شی په دارین کښ دغه سوال کوی
ته چه رهبری کوے تفصیل ئے دَ اجمال کوی
تا کو یا آغستے چرته خونه دَ الیاس دَه
هر سړی مومندے لویه برخه ستا دَ لاسه دَه

~~~~~~~~



## طرح ۲۱

## دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

...یو باغ دے پکښ تل چه وی بهار
...ور پکښ ګرځی بلبلان کوی چغار
...ته دَه دَ جنت اَمن آمان پکښ بسیار
...ان ئے خبردار دَ زمانے دے په اسرار
جنت به وایم سوات له که جنت په سر زمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

...ته دَه دَ جنت زیب و زینت لری بے شا نه
...رت پکښ جوړ کړی مناظر دِی لا بیا نه
...ندیږی ګل، غوټئ پانړے هم ناچ کوی دَ ځانه
آواز دَ طائرانو اورید ے شی دَ هر خوا نه

PUKHTO.NET
~~~~~~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال او کوره راشه چه حال د ته تسکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

نظیر دے د جنت ښکلے د سوات ازمکه نامدار

طوطیان پکښی چغار کوی بے خوفه له آزار

دا دور بختور دے، دی هر څوک شکر کنه ار

خزان د مولی دورلری د دے چمن گلزار

په امن د آقا تو د د هر یو مکین شی

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښی اول یو

د قحط کښی مکسته یو د هر قسم عوبل یو

اقبال د جهانزیب دے منظم او مدلل یو

د علم په زیور سره فکری! ښه مکمل یو

حافظ دِ د غازی څو ته الله العلمین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(عبدالمالک فکری، تندو ډاک سوات)



## فخر الشعراء جناب غلے شیر محمد خان صاحب مینوش تورلاندی (صوابی)

---

طرح نمبر ۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

---

هزار حلے د شمن که کړی بے باکه نکته چین شی

هلال چه د خودی چړے کمال سره قرین شی

جمال د قاهری کړی هله ستورے د جبین شی

د وحنت په کوته کښی د سلیمان هغه نگین شی

په تخت د حکومت باندِ فائز به ښه تمکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شهٔ نو قوّت ترِ نه جوړېږي
چه پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړېږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړېږي
که روغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړېږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل د رته آئین شي
دروغ نه دِ دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حُباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سَراب دے
دَ ده او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندې حجاب دے
اُوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

دَ سوات دَ والي کار واره تعمیر دَ ژوند کښې دے



جهان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوندکښې دے
حیات ئې سراپا وینه توقیر دَ ژوندکښې دے
په فهم و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوندکښې دے
نظام په محکمئ دَ ښهٔ سیرت سره سنګین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

په [illegible] دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
[illegible] دَ والي صاحب نښان دَ محبت دے
[illegible] وجه لازم هما ئې تول عُمر صفت دے
[illegible] چه چا حلال کړهٔ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حُسن هم دے دا که کوږ چه نمکین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

شیر محمد مینوَش، تورلاندی، صوابی

PUKHTO.NET

# ښاغلي احمد جان صاحب نشتر علیګرامه سوات

---

## طرح ۱

یو زه یوازې نه یم په دې بانډِ خوشحاله

---

دلښاد ګرځي آزاد شه هر نفر چه د جنجاله
یو زه یوازې نه یم په دې بانډِ خوشحاله
خوشحاله ټول وطن د رب په دې کرم عظیم دې
په دورِ جهانزیب کښې چه مونږ څوت شو د سیاله
شکر بیا پرې شکر چه یم سته له دې ذات شه
معراج د ترقۍ ځمونږ نصیب د ذوالجلاله
پښتو نه راشه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دې
واوره د رته وائي د هر ګل ژبان د حاله



...وج د ترقۍ چه د دې ذات په ځغږې بیاموند
ګرځي هر نفر لکه سورما ځمونږ د خیاله
عزت دې که عظمت که دِ دولت دې جهانزیب
راحت و مسرت دې وصول تا کړه د اقباله
...اور د خوږ وطن ته که غوږ کیږدې ښکته وائي
...ګر شه په دولت د خپل وطن د لایزاله
په در کښې د خالق به د نشتر وي دعا دا تل
آشنا کړه مونږ د خوږ وطن د ننګ د لوی کماله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

... نه یم شپه کښې جهانزیب بله کړه شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

اُو چت یٔ کړه خوګ راګ پسے شروع شو نو بتونه
مائل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه و ته سمع
زاغان که خا پیرک وو روان کل شو نا...
دنړا دَ جهان زیب کړه له دے وارو قلع قمع
خوګ وطن ځمونږ به دَ جنت نه یو حساب شی
دَ در دَ لا یزال نه دَ نشتر شوه داسے طمع

---

## طرح ۳

هر سړی مونګ لوی به برخه ستا دَ لاسه ده

---

فضا دَ کرم ستا چه نن پسه ځمونږ لیا سه ده
هر سړی مونګ لوی به برخه ستا دَ لاسه ده
سیرت دَ فرشتو نه فیض دَ نمر نه م آقا ...
حَسین چهره دَ درکړے لایزال عجب دَ ناسه ده



سوات دَ ګلو کړ خو دَ قسمت چه دِ اصلاح کړے
سرګنډه مونږه تولو ته زیباله ینغ خواسه ده
وطن دَ پښتنو چه به رشتیا سره جنت کړه تا
دَ حال ژبه کویا دَ هر چمن پرے دَ احسان ده
... شاد دَ پښتنو دَ وطن زیبه جهان زیبه
... ادَم حباد په کودار دَ چپور اسه ده
طوطیان له دَ چمن به دِ تل ستایی په نغوسه ده
منحوس زاغ بادَ زاغ ده چه محروم له دے سپاسه ده
... نه پښتون درته قائل چه په احسان نه شی
... به کامیاب نه شی ثابت ځمونږ دَ قیاسه ده
اے ځمونږ سلطانه مبارک بیا مبارک دِ شه
دنیا دَ نشتر داده چه سرګنډه له قرطاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۱۲

### دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پښتون به خوار شی ځکه چه بادشاه ئې دا آمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار ځکه چه نه خوښ مِ ریاکار شی
ځای د ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی

کیده لږ قدم ځما د سوات په سر زمین کښې ته
ګوره کائینات چه ځوک وطن ځما آئین شی

دے د دِم قدم د عالیجاه بلند شمِ ځموږ
زیات به له دے حاله استقبال ځموږ رنګین شی

آباد لرے خاوند دِ حکمران ځموږ د سوات
په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

---

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه، سوات



## شاغلی مولوی ضیاء الحق صاحب

### علیګرامه، سوات

---

## طرح ۱۱

### یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

... تل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله
... خوک دِ هر مند کړه له خپل جود او له نواله
... نول ستا دعائی کړی که خوک لوی دی که خورد له
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

... جوړے چه ځائی ځموږ د پاره مدرسے کړے
... خو له د هر سړی دِ د علمونو همه سے کړے
معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دی چه پیشه یې شه شدت و

له رور او له عزیز سره یې بغض و عناوت و

بل کار به له دوی نه وه بې له جنګ او له جداله

یو زه یوازې نه یمه پرې دې باندې خوشحاله

اوس ناست دی په آرام سره کوی عیش و عشرت

پیدا یې یو له بل سره دے انس او محبت

تول ستا شکر کنا دی خلاص د ظلم د جنجاله

یو زه یوازې نه یمه په دے باندې خوشحاله

جاری په هر مقام باندې ستا بحر د کرم دے

نن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ ارم دے

پاک رب د معمر په عمر نوح کړه نیک خصاله

یو زه یوازې نه یمه پرې دې باندې خوشحاله

پو نږ تل حکمران او سے آشاه بلند اقباله



په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی

سوات په سرزمین کښې جهانزیب د حکمران وی

سوال ځمونږ قبول کړے پخپل فضل ذوالجلاله

یو زه یوازې نه یمه پرې دې باندې خوشحاله

پاک رب د معمر په عمر نوح که نیک خصاله

ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بګوش

کړے له خپل لطف و کرم نه فراموش

د داسے خاکسارانو پرورش کوه دعاله

یو زه یوازې نه یمه پرې دې باندې خوشحاله

هر څوک د هر مند کوه له خپل جود او له نواله

---

مولوی ضیاء الحق، علیگرامه - سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے جناب سلطان محمد صاحب منکوری ۔ سوا

طرح نمبر ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دا لوئی رحمت د رب دے په جهان دی بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دنیا کښی د هر قوم د انتظام نشته امید
هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان
دا شاذ بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان
رحمت خوئ فرشته خوند والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بے لوټه بے دریا تل د خپل قوم کوی خد

PUKHTO.NET



شب روز غمخور د قوم د ترقئ دے یے په محنت
راضی دے تو بینه ځکه رب په دغه نیک خصلت
جلال کمال یے ځکه دے د رب نه بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
مائل ځکه د سوات دے جهان زیب په زړه سلیم
باندِ هر نیک کار دے بلاریب په زړه حلیم
مقبول د عام الناس دے شرافت لوی عمیم
صد آفرین پاچا شه دے او الی ستا په افعاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
روښانه شه تاریخ هم د گل سوات ستا په دوران
قائل ستا د انصاف ځکه هر څوک دے د جهان
د اصل مجاهد یے د خپل مذهب د کوهٔ روښان
قائل لقب د سوات صدر اعظم یے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دا سوات یو گلستان دے ته هم گل او هم شمس
داد رس ده مظلوم یې ته سایه ده شمس
ته ستورے د رحمت یې ته رهبر ده بشر
د ملیار قوم پشت و پناه یې گشتیبان یې بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے بانډې خوشحاله

د را اصل ته د خدائے یې پرستار دے یره په خلوص
ستا نیک عمل ده مومن پړ زړه چوړ شوے موس
ده مفسد د زړه نه حسد دو رشه ستا په چوړ
نن سوات دارالامان شه په آرام دے بے مثاله

دعا د رب ته مدام کوم زه مرزا سلطان
آمان دے د زوال کړی رب د عدل دا میزان
قایم دے په جهان وی د اقبال ستورے روښان
فصیح ملیح بشر حمونږ والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے بانډې خوشحاله



## طرح ۳
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناستر جمع

---

دا باره د سپرلي یو نسیم د نوبهار
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناستر جمع

دا باره د سپرلي پنځم کال حمونږ د عیش
دا بوره د رحمت دے دا تاریخ حمونږ ده بیش
درخشنده کواکب دے دا اقبال حمونږ ده خویش
دا ستورے د رحمت دے جهان زیب ده دیار
رڼا ئے پر سوات بونیر دے کل جهان دے په طمع

عادل دے جهان زیب رب په عادل بانډې کړی نظر
بیاره د ظالم لا هره نن په سوات شروع دے فجر
شب روز محور د قوم دے تل ظالم ته کوی قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ امن فرشته ده دَ رحمت دَ رب غفار
دا سوات دارالامان دے په رښتیا شوه بے غمه
دَ قوم دَ مُلک دَ پاره شب و روز کوی محنت
هم خوب او هم خوراک ئے دے دَ قوم په محبت
عاشق دا جهان زیبا دے معشوقه خپل رعیت
دراصل مجاهد دے، رد بدعت، شوه سمه
دُعاء دَ عام و خاص ورته جاری ده هر دمه
ملیح دے هم فصیح دے جهان زیبا دَ هر بشر
ناصح دَ هر قبیح دے دل صفا دے په عنصر
روښان پرے کل جهان دے معطر دے منور
اَلنَّقشُ فِی الحَجرِ په دنیا جوړه شه یادګار
مقبول دَ عام و خاص دے مشهور دَ تول عجمه
طوطیان په ګلستان کښے په خندا کینا سته جمعه



سوال ته په درګاه دَ رب غفار کړه اے سلطان
کل مخلوق دے هم رښا زیب دَ جهان
ترقی عروج دَ سوات دے دَ آسمان
دَ عدالت رب جاری لوے په جار
ښانه پرے کل سوات دے زړه خالی له دَ غمه
طوطیا په ګلستان کښے په خندا کینا سته جمع

---

طرح نمبر ۳

سره ی موند لے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

دَ صبا ئی شوے چه رښا دی عام خاصه ده
سره ی موندلے موندلے لویه برخه ستا لاسه ده
رحمت ئے له تا فیض رسی هر ځا وته
رحمت ئے چه جاری شولے هر ځوا وته

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب د کل جهان شوې د زیرو نه بالا وَ ته

ابر د ګهارې غنچه زمکه ستا د لاسه ده

هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

ته باد نسیم یې چه مدام بهار د ګلو سې

خه بنه منقسم یې چه مدام سهار د ګلو یې

خه بنه منتظم یې چه مدام معمار د دلو یې

هر پښتون شرف رتبه مونده ستا د لاسه ده

هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

ته خوشبو یه ګل یې زیب د باغ او د جهان یې ته

ته زیبا د وربل یې سیال دِ نیشته عالیشان یې ته

ته قدرشناس یې قدرمنده قدردان یې ته

تل عفوه سزا په مظلومانو ستا د لاسه ده

هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده



تل ته مساوات د هر مسلم کړوې د ځان سره

نشته عدالت کښې تفاوت زیرو بالا سره

ځکه رب نظر د رحمت کوی له تا سره

ته مشعل د ښوائې رڼائې پړ ستا د لاسه ده

هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

باره د سمبر ده د اپنځمه سالګره د ستا

هر سړی مسرور دې! استقلال د خپل ملک د جاه

بخت دِ بارآور شه! جهانزیبه! شه تا بنده ماه

تل کوی دعاء سلطان محمد چه دې د لاسه ده

هر سړی مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

## طرح ۴

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا دَ جهان دے، جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته صدف یې دُرِ شهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت سا ته دَ رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال سا ته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دے دا کلام که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته تاراج وې تل دَ غیرو وے آماج
بے سره سر پرست تباه برباد لکه دُ حجاج
صد شکر دے مالک شوے دَ خپل قوم دَ ملک دَ راج
سامان هم دَ عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

ستا وران شیرازه وه، مکمله شوه هُنسیار شه



معمار دَ خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه بنه بیدار شه
تعلیم صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکر گذار شه
دا لوے عمر ار همدرد ستا دا والی دے که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

حفظان بچاؤ دَ خپل عزت دولت که دِ مطلب وی
همدرد شه دَ سردار زیب دَ جهان که دِ مطلب وی
دیوه دَ خپل قسمت ده، ډیر احتیاط که دِ مطلب وی
ځان نوی په سود و زیان کړه په ایمان که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

گمنام وے ته اے سواته تل دَ غیرو وے غلام
ظلمونه، بد عتونه، وران رسمونه تول دَ قام
مالک دَ شریعت دَ سیاست شو لے نیکنام
مشکور به دَ احسان دَ خپل والی شی که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیر ده ستا د عقل په نظام
تل هوش عقل سلیم ستا ته د خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوے د عروج په هر یو بام
تل زیب ستا د جهان دے جهان زیبا که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

ماهر د سیاست دے جوهر رستم د زمانے
قائدِ ځوان د سوات دے یو یادګار د زمانے
قاسم فاتح د سوات دے د بدعت د زمانے
ژوندے نوم آبدی شه، زیب د سوات که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

دراصل خیرالناس دے داسرار ځوان د قوم
رحمت دے د الله ځوان د پاره د قول قوم
بشر د رب په فضل دے غیبی رحمت د قوم

PUKHTO.NET



ماهر د سیاست عقل سلیم که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

در شب و روز کوشش جاری دے ستا د ترقئ
نه څه چه ستا اولاده جوړ بنیاد د کامیابئ
د قوم نه ورسته وے اوس شو وړاندې په سیالئ
اے سوات نه خوش قسمته په خپلو دین که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

مرزا سلطان به تل د رب په درګوی دا سوال
عزت ژوندون مدام ورکړے د خضر په مثال
دائم دِ د قسمت د سوات ساتی تل د زوال
تل زیب دے د جهان په جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلي شېر صاحب چند خوږه سواتي

---

## طرح ۲

### دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي

---

تياره کښې رڼا هله وي ښکاره چې عارفين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي

تياره نوره تياره وه چې لا نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پېژند شرافت
هر څوک وو بې خبره د هنر او د حکمت
نه دول وه د خلقو او نه دا زيب و زينت
همت اوکړي ماليار نو مراد اوبوټي هله شين
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي



همت د جهان زيب چې کړه د عدل ډيوه بله
پښتنه د خېل قام نه يې د هر تکليف کوله
فائده د رعيت به يې هر وخت لټوله
مدام ميوه د رحم يې په هر مقام کوله
اوس وائي ټول قومونه چې په شاه دې آفرين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي

اوس وائي ټول په شوق چې د شاه يو وفادار
قائم دې وي تل دا سلطنت پروردګار
دا ښکلا وطن باغ شه په دې باغ تازه بهار
رښتيا وائي شېر خادم لفظونه د اشعار
راځي دې د هر ملک نه څوک سيل ته شايقين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي

---

شېر، چند، خوږه، سواتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلي خور مهر النساء صاحبه بانو
## کوکارئ، سوات

---

طرح ۳

هر سړی مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی مونده لويه برخه ستا د دره ده
منع د عطاء نه د کهتر، نه له مهتره ده
بل چينه جاري د عنايت د له دفتره ده
هغه تر فائز چه اراده د له اخلاصه ده
هر سړی مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

بلبل کوي نغمې په باغ کښې تو چې په نخرو
قدم اخلي د نازه په رو رو راځي خارو



شرشور کوي طوطيان د دے وطن په [illegible]
دا ستا ښکلے دوران ښه زمانه ځکه په هر [illegible]
هر سړی مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

قومه خوشحاليږه چه نن باره د سمبر دے
والي صاحب په دے ورځ اينبود تاج په سر دے
ده ورځ د خوشحالۍ ځکه په هر سړي اختر دے
خوشحاله نن عالم دے خوشحالي پرے بے قياسه ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده

ستا ښکلے دوران د پرے مزے د غريبانو دي
خاندي خوشحاليږي خوشحالۍ په مظلومانو دي
سخت ورځے نن د رياست په ظالمانو دي
رب د اجر درکړي داد عام خاص الخاصه ده
هر سړی مونده لويه برخه ستا د لاسه ده

تا د علم جال په وطن خور کړه فيض رسانه
هر يو کار خير کړے ته خپل قوم له مهربانه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ فیضِ عام نه رعیت شه ټول شادانه
حُکم دِ رتبه په بادشاهانو کښې بیا سر دَه
هر سړی مونده لو په برخه ستا دَ لاسه دَه

حق چه ستا دَ شکر نه منی هغه انسان نه دے
نه محسن هغه دے چه قایل دِ دَ احسان نه دے
رب چرے ملګرے دَ ناشکره مسلمان نه دے

ستا ده دُعاګو حُکمه بانو چه حق شناسه دَه
هر سړی مونده لو په برخه ستا دَ لاسه دَه

---

مهر النسآء بانو ، کوکارئ ، سوات



## ښاغلے پیر محمد خان صاحب داګی، سوات

---

### طرح ۱

زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

خیر یوازے ما دَ پاره نه دے خود عام دے
هر سړے رضا دے حُکمه خلاص دَ جنجاله
زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
نشته دے خفه د رنه هیڅوک دَ سوات په ملک کښې
نور ملکونه وائی چه شوے لاندِ ستا دَ جاله
رعیت به دِ خود فخر کوی چه ستا غوندِ دے شاهِ
هر سړے دِ لاندِ دے پوره بوره دَ خیاله
داستا دَ توفیق سوال چه کوی په خامینِ دَ تول
بل تاغوندِ څوک نشته چه دشمن کوی بے مجاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سواکه حیوانات که جمادات دي ټول نارې وهي
عادل بې ته عادل اې والي شاه باکماله
پوره به وصف نه کړي که شروع پیر محمد خان شي
که تیر به دې وینا کاندې اتلس نولس کاله

---

## طرح ۳

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې د خوشئ کړي خندیده
د یو شاخ نه کړي بل شاخ ته د نازه جهیده
تیاره د خیره لاړه زاغان ځکه رمیده
د ده د مخه تختي د دښمنانو ویره د مع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

تیاره د ملکه لاړه په وطن آباداني ده
ویستلي دي دوستانو د آرام زندګاني ده



چه بغض لوی زړه کښې د ویره بې زیاته ناداني ده
قربان چه لتاسه کړي ورسره لې د عقل قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

وطن د دختن ځنې دوچند جوړ که نقاد
خوشحاله به وي هغه چه کړي تیر ساعت په یاد
نه جهل شته نه مکر نه فریب شته نه فساد
دا رحم دې چه بله شوله ستا د حسن شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

په ورځ د تاجپوشئ خلق یو بل ته مبشر شو
د زمکې زیر ګنجونه د زمین سر ته ظاهر شو
د چالاس کښې چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته بې سنګ فارس خلق به زر کړې لوی طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

په فضل د الله دې هره چاره منتخب شه
بالا دې په شاهانو کښې اې شاه لوی منصب شه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے صاحب وطن واړه په مثل دَ جنت دے
خوشحاله ترے هر وخت تمام واړه رعیت دے
دعا ورته کوؤ نن ده هر یو کار دِ یې سنګین شي
دعا ورته کوؤ نن ده دا دعا دِ رب قبوله کړي
خلاص دِ یې په دین دنیا کښ پاک الله دَ نوله کړي
نیکه یې غوث الزمان دے په دعا دِ یې رنګین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي
نیکه یې غوث الزمان دے په سیدو شریف مزار لري
تخنی ترے دښمن شاه جهانزیب لاس کښ تلوار لري
شي دِ مبارک هم مبارک دِ همنشین شي
شي دِ مبارک مبارکي مونږ له پکار ده
وَئ پیر محمد خان دَ دمګي باګه راته لار ده
دا دور دِ قایم وي هم قایم دِ ترے آمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

---

پیر محمد خان دمګی، سوات



## بناغلے محمد نوشیروان صاحب شاه ډیرئ

ریاست سوات

---

طرح ۱

یوزه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

---

یوزه یوازے نه یم په دے بانډِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے خبر که دَ احواله
خوشحاله هر انسان دَ خوشحالي کړي کور په کور
بورا په سرو غنچو دَ باغچو کوي لور په لور
بلبل دَ ډیره جوشه ځان له جوړه که ترنګ ټکور
بادشاه چه عادل راغے خلاص شه دَ خلقه جنجاله
یوزه یوازے نه یم په دے بانډِ خوشحاله
بادشاه دَ عدل راغے هر ځائ جوړ شه انصاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په سترګه اُوګوره پکښې نشته خلاف
بیژه شاهٔ اُو به سکې تل په یوګو درکښې صاف

قلم مې شه ناچاره ستادَ وصف دَ کماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

قلم مې شه ناچاره ستادَ وصف نه سلطانه
عادِل یې رحمدِل یې په غریبو مهربانه
رشتینے ظِلّ الله یې اے حموُ نږه حکمرانه
بادشاه دَ هر وطن شے سوال کوم دَ ذوالجلاله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

بادشاه دَ روئ زمین شے دعاء کړم شام و سحرُ
تاریخ دَ تاجپوشئ دِ دے په باره دسمبر
داورځ دَ خوشحالیُ ده پوښږ باندِ لوی اختر
مزانوشیروان ځکه په جوش کړې دَ خیالهٔ
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے ځان خبر که دَ احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمعَ

---

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمعَ
شُکر دے الله چه دَ زاغانو لړِ شوهٔ طمعَ

شکر دَ الله دے چه زاغان شو تار په تار
بیا چه شه په سوات کښې دَ مظلومو مددګار
فضل یو نږ و شه دَ خالق غنی غفار
دَ ظلم تیاره لاړه چه روښانه راغله شمعَ
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمعَ

تیاره دَ ظلم لاړه رڼا یې شوه په جهان
مولیٰ دِ تل پس لری حموُ نږ دا حکمران
دَ سوات زمکه یې جوړه کړه خائسته جنت نِشان
دَ حق په غوږو واوره دا ځاندا په سمعَ
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمعَ .

د حق په نظر اوګوره د سوات په سر زمین
ځائے بځائے بنګلے خائسته باغچے په بنه آئین
سوال م په درګاه کښې دے د رب العالمین
خاونده لا یزاله د دشمن ئے او باسے قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستے جمع
خاوندا لا یزاله دشمنان ئے کړے تاراج
ترڅو چه وی ژوندے پسر د ده لوړے دا تاج
مزا نوشیروان په محبت لکه دُرّاج
د خولے ئے د جوش توره اوخته لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستے جمع

طرح ۳۱

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
شک پکښې هیڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده



شک په دے کښې نشته څه داوره قیل و قال
ظلم ستم زور روه هر سړے وه په جنجال
چه ته د سوات زمکه چه ته داسے ده ول حال
لاند په تهذیب چه وه د هر چا اوس بیا سره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
چه ته وه تهذیب سراسر جوړ وه جهالت
د خان ملک د لاسه دا وطن وه په زحمت
فضل د رب و شه ستا پوړ راغے حکومت
اوس که فکر اوشي نظاره د کوزو پاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده
اوس که فکر اوشي نظارے دی لور پلور
لارے موټرے دروځي هر سړي پکښې سور
سړکونه مزین شو آبادي شوه کور پکور
زه به د قلم م تیره کړے د الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه د قلم تیره کړے په هنر
تاریخ ته چه مې وکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله کړې جوړ دے پرے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دې ډکه د سپاسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح نمبر ۲

### دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي
آواز د صداقت چه وي د هر چا پرے آمین شي
دروغ نه دي رښتیا د ماضي او کوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
د عدل زمانه د خوشحالي ده نن په سوات
امن دے آمان دے خبردار دې سامعین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي



امن دے آمان دے هر سړے دے په آرام
سوات شه په مثال یوه نمونه دار السلام
غازي ملت چه بنه خدمت او کړو د قام
به خپله به قائل شے که دې زړه کښې باد آئین شي
به خپله به قائل شے چه خبر شے به احوال
چه ته په دنیا کښې به پیدا نه شې مثال
دائم دې وي قایم دې وي داستو رے د اقبال
قبوله که دعا مې په درګاه د رب متین شي
قبوله که دعا مې شي په در د پاک اکبر
مبارک دې تا جیوشي وي نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندې د نظم نه دې تاریخ د سنین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

مرزا نوشیروان شاه ډیري، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے شیر افضل صاحب افضل

## سیدو شریف، سوات

---

### طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

چه بله ور ته شوه د جهانزیب رخسار شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اوکړو زیب
ځای په ځای انصاف دے چې ته نشته دے فریب
هر ځای امن آمان دے په اقبال د جهانزیب
شمشاد یې سلامی لوه راځي د باغ ږمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

طوطیان یې سلامی لوه راځي د سر درونه



پاتے به حیران شی که خبر شوے د قیصو نه
تیاره د جهل وے ده د سوات د کنارونه
هر ځائې خوشحالي ده سالګره د نن شپږمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

هر ځای خوشحالي ده ګل د ګل سره سیالي کړي
سواتیان بے غمه ګرځي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خدا دے لما مت چه حفاظت یې د ا مالي کړي
محو مې یې پرې ایږي نه د څوک د لطف ډکی مه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

محو مه یې د دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خیال کښې څوک د ده دے
شک ور پکښې نشته الحمدلله ښه پوره دے
افضل والئ سره مان د قربان د دے صنمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

PUKHTO.NET

## طرح ۳۱

هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

کُنړ نه یم په غوږو ما اوریدلے د عام خاصه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

کنړ نه یم په غوږو د هر کس مِ اوریدلی دی
دروغ یمه په سترګو کارنامے مِ ستا کتلی دی
سوات شو لوګلزار چه ظالمان ترِ رب ویستلی دی
داسے ظالمان په مخکښ ستا د خپو خزلی دی
اے د عدل ستوریه ما ویستلے دا د قیاسه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

اے د عدل ستوریه ستا پښتانه حکمران
چرته به پیدا نه شی که چانړ کړی ټوک جهان
سخا کښی ستا پشان به پیدا نه شی داسے ځوان



تاجدارِه ناموره ربِ د تِل لره شادان
درجه دِ رب سِوا کړه دا دعام د والناسه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

درجه به څنګ د یار دِ کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دِ هم الله لره د سوات به دے بوستان
څه یره به وی کم عقله چه به تا نه وی خفګان
حق تا به حقدارو تقسیم کړے په خه شان
هره فیصله ستا د یوے پلے لپا سره ده

د حق دِ فیصلے دی پرے قائل ټول ملکونه دی
حکمرانے سلطانه هر ځائ ستا صفتونه دی
بنګلے دِ نظام دے ځای په ځای شنه چمن ونه دی
لارے تیارے کړی بل په هر ځای مشالونه دی
افضل وائی عمر دیر شه دا رنړا ستا د اخلاصه ده

---

شیر افضل، سید و شریف، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے خانے صاحب منگوره سوات

## طرح ۱

يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله

يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله
هر انسان چه وينم کوګ ګرځي له خياله

سوړه سمباليګي، قد د صنوبر وينه
راشه تماشے له، ته د قام رهبر وينه
دا زيب د جهان دے، ډک دے د کماله
يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله

دا رحم چه اوشه، ګوتکه په سحر کښ
ګل شه دا ګلاب، په باره د سمبر کښ



دے چه خداۓ بادشاه که، شم زاړه دهغه کاله
يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله

دے چه خداۓ بادشاه که په باره د سمبر
لړے ده يو دم که د عدل قام ته ورور
موسم د پسرلی شه، شو خلاص د پشکاله
يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله

خاوره يو شه زر شوه، کانړی يو لعل نه شو
جوهر تر يے قسما قسم راشه وينه ګلونه شو
خانے حکمران دے وی دا بلند اقباله
يو زه يوازے نه يم په دے بانډِ خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطيان په ګلستان کښ په خندا کينا سته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
ملک ټول بهار بهار شه، شوه بل دَ عدل شمع

چه کوم وخت په چمن کښې دَ طوطیانو شه چغار
سړي ځان له جوړ که عجیب ښکلے سنګار
دَ عدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

روانه خوشبوئي دَ عدل شوه دَ ښهر یار
په بارهٔ دسمبر کښې تاج پسر چه که تاجدار
غګ دَ اختر اوکړین دَ هر سړي په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

هر سړے خوشحاله شه چه شه دریم اختر
شروع عدل انصاف شه لر شه دَ عدل ور
پیره خوشحالي شوه دَ هر جا وړ شوه دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوی واړه حمونږ ه شو په عقل پیمانه
اے خانے قصابه هر څوک په شو په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

## طرح ۳

هر سړي مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړي مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده
جهنډه دَ ترقۍ حمونږ په ټولو جهان دَ پاسه ده

ستا په همتونو سره لوړ حمونږ وطن شه
دَ سیالو سره سیال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا مهربانې دِ هم دَ عدل دَ لباسه ده
هر سړي مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

رنګ رنګ ترقئ و رکوی قام له مُلک نه بیا شه
په باره د سمبر کښ دَ هر چا حق ادا شه
راغلے دا نقشه هم دَ سنے یو کم پنځاس ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

دا کار په اتفاق اوشه، ستا په نیک خصلت
تل به ته کامران یے، چه وی دِ دا صفت
دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت دَ قیاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

اے خانے قصابه، ستا چه خوښ ره نو ان وی
صفت به دِ په خولے کښ دَ خپل عادل سلطان وی
وتلے دا تګوره یو دَ سختی او دَ افلاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی



دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی
چه دا عدل انصاف وی جهان به یو رنګین شی

ښار شاباره وطن وه جوړ دَ ظلم یو سنګار وه
یو دم یے صفا که چه عادل یے شهریار وه
لیدے دَ عزت نو سنګار به هر جبین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

خپل حکومت زمونږ په مُلک دے، خپل یے حکمران لرو
ټول شکر ګزار یو چه داسے رنګ سلطان لرو
هغه مُلک به لوړ شی چه دا رنګ خپل ملکین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

دَ ده په برکت حمونږ نه لاړ شه جهالت
په باره د سمبر وطن ته راغے ډیر راحت
دا وائی خانے قصاب چه نوی دا به یو حسین شی

---

خانے قصاب - منګوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے دِلاور خان صاحب ډاکی

## ریاست سوات

---

### طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان د سوات په عدل د حضور دی

یو زه یوازے نه یم په انصاف د صاحب کوم
مستی تول رعیت کوی د هر قسم چه کوری
پردی مال ته کاته دی د هر جا په زړه کښی شرم
غنیان داره سواتیان شو لمتوی د دولت لوری
انصاف د شاهِ سوات اکره د هر کوانو خاطر نرم

PUKHTO.NET



اکثر صاحبِ مال شو زکوات نه ئے خپل زوری
مخلوق تعلیم یافته رعیت هر کښی شه د کماله
قایم دِ دا انصاف وی خزانه چه پرے مشکور دی

قائم دِ حکومت وی څو چه وی دنیا آ بساده
بلاس دِ د شاهئ د صاحب دا زنځیر محکم وِی
بهار د حکومت دِ خدائ ساتی د غم د باده
دا دور د گلونو دِ په دے گلشن هر دم وِی
دبدب دِ د شاه تل وِی دا دبدب د سوات حیاده
حیا دِ دا حمونه پس شب و روز هر دم وِی
نګاه د غریبانو ئے د سوات شاه د هم خیاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

حکمونه معتمد دِ د شاهئ په هر دستور دی
خوشحال رعیتیان د سوات په عدل د حضور دی

حکمونه دِ دوی ستا حاشے د حکم اے سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی لکه د متن، متن دي چه د معنا نه
مسکن دي ستا گلشن شي، د گلشن نه ته شې خوانه
تر څو چه دا دنیاوي ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتن دي ستا تاجدار وي چه تاجدار شي د هر شانه
ایمان دي سلامت شه، سلامت شې د ایمانه

دشمن د رعیت دي همیش ستا وي بې مجاله
ستا تاج دي د دولت سوات رعیتان په تا معمور دي
رعیت راضي په ګډ دے چه د تا پرې نیک خیالات دي
خیالات دي د نیکۍ همیشه ستا د قوم پسر دي
ظلمونه ستا په نیک فهم د خوار و پسر محط دي
بڼې د خپل نیکه دي همیشه د تا رهبر دي
حقوق د عدالت ستا دي په هر وطن کښې زیات وي
دا غمک دي قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وي
تر څو چه دلاور غمگین محروم نه وي د قاله
د هغې دا سوالونه تل په در کښې د غفور دي



# طرح ۲۷

## طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

معموره پرینده د سوات په ملک کښې په ثمر دي
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
معموره هر آشیا د سوات په ملک کښې په خندا دے
محفوظ امن امان یکښې چلیږي د هر قسمه
موسم د بسهار دِ د سوات په خد مدام پیدا دے
اقبال د شاه سوات بدخواهان کړه بهر د رسمه
گل س وخت بلبلو ته د نازه په ندا دے
خوف ووت د گلونو د خزانه د جهان جسمه
شبنم خو تهي غوټۍ لباس د گلو مقرر دے
طوطیان او بورامگان خوشنود په کیناسته جمع
طوطیان او بورامگان په سوات کښې ډیر معتبر دي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
د خوف نه نه خزان خفګان ژمي کور و کړ دي
حیران څوک نه وطن ته ټول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمي یخني سم برابر دي
آبي د سوات هر کلے په نیک فهم د سر دار دے
چمن چمن څوک نه د ورپ ځنې بهتر دې دي
مخلوق د هر وطن د لته ښاد اګینا سته جمع

راځي د سوات لیدو له د هر قسم مخلوقات
والي صاحب د سوات نام منور که قاف تر قافه
حافظ د سوات ایستلي بد خواهان دي د هر بات
منسوخ ظلم زور شر اَن د هر قسمه اسرافه
رهبر د غریبانو دا سلطان دے عالي ذات
ګواه پرے ټول عالم دے چه هر ځاے کښې د انصافه
مشتاق ده دیر عالم د سوات د شاه عدل ګستر دي
بد خواه د شاه د سوات ګوشه جدا ګینا سته جمع



دا دور دې مدام وي په قسمت د حکمران
شاهي چه د اول آخیره وي د ټول اولاد
ګلشن ګلشن دې سوات چه داهې وي پرے طوطیان
طوطیان او میلانه پکښې او سیږي خاد و بناد
واصف چه دلاور غمګین پرے بخیل لسان
دا ځول دې د سوات اوي په والي صاحب آباد
ګلونه دولس میاشتې په باغ کښې معطر دي
زاغان تر په ارمان کښې په سود اګینا سته جمع

---

## طرح ۳

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

خوږه سا پلا نو اراده چه د کوم کار کړے
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ سائلانو اِرادہ چه دَ دولت وکړه
نوَل هغه ماړه شو پکښې یو پاتې محروم نه شه
واړه فقیرانو افسانه دِ دَ شهرت وکړه
پاتې یو سائل په سوات خوارچا ته په نوم نه شه
دا دَ تقسیم برخې په جمعه کښې حرکت وکړه
هر سائل سخی شه نام هرګز پاتې دَ شوم نه شه
ځکه په یورپ اِشیا دَ سوات نامے اظهار کړے
چترے پسې دَ بادشاهۍ لمن نیا سر ده
دا دَ شام ثانی په سوات کښې بل چه دویم شام جوړ شه
ځکه دے یې عالم پکښې دَ هر ځائ تماشے کوي
دا دَ سید و غوث په فخر دے دَ اسلام جوړ شه
سوات ځکه دَ دے په هر وطن کښې پلوشے کوي
هر رنګ طالبان پکښې دَ هر علم انجام جوړ شه
هر رنګ ملنګان پکښې په هر رنګے نشے کوي



هر رنګے غنچې در پکښې هر رنګے بهار کړے
هر رنګے باغچه پکښې دَ هر ثمرے قیاسه ده
هر رنګے هنر پکښې دَ چین او دَ ختن شته دے
هر رنګ نقاشیان پکښې قابل په امتحان شته دے
هر رنګے فیشن پکښې تیار دَ هر وطن شته دے
هر رنګ فیشن ساز یعنې تهیلو په هر مکان شته دے
دا دَ سوات دَ شاه دَ هر بنده شاه گفتن شته دے
داسے دَ هر قسمه فن په سوات کښې قابلان شته دے
دا د سواری دَ سوات اصاحب دارومدار کړے
ځکه د بل به دَ سوات تیره خود دَ الماس ده
خود به ترقی دغه دَ سوات نام عجیب کوي
مل چه ئې په نیکه خیل تاجور دَ هره باب دے
تل دَ سوات سلطان رائې دوستې دَ خوار غریب کوي
ده دَ عدالت خنجر و پیتلے دَ نقا به دے

PUKHTO.NET

همې پرورش کړی همې غور د طبیب کوی
همدې نیکو کار او نیک کردار د هر حساب دی

داسې نیکه برخه چه د قوم سره تاجدار کړې
برخه جهانګیری رسیدې د والناس ده

نامه یې ج او ه الف ن ز ی ب بهتره ده
فکر ورته او کړه چه عقل ورته خام نه کړې

جیم ه الف یو ځای او د نون بیله خانه غوره ده
ز یوازې کوردې ی ب یو ځای بد د فام نه کړې

دا جهان خائسته برخه یې نام کښې مقرره ده
نام که د حضور کوره حقونه بې دوام نه کړې

دا د صفت باغ کښې نوکری چه کوم غمخوار کړې
خوښه باغباني د ملا ورته چپوراسه ده

هر سړی موندلې لویه برخه ستا د ملاسره

---



## طرح ۴۲

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دی یقین شی

---

تعلیم د عدالت عاقله ته او کړه په ښوا کښې
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دی یقین شی

تعلیم که د انصاف کوې اول پرې امتحان کړه
داخل چه شې اول په ښوا کښې نوم یې لنډ اکې دې

محصول د ښوا دحد د نسه آګاه ته خپل ځان کړه
تپوس د میلمنو د محصول دوی ته کار سپکې دې

په ورځې پنځه حکمه پرې د عدل شاهجهان کړه
اخلاق د بد فعلي په خوله کښې خوند تریخ شمکې دې

اخته که ځاحد کښې مسافر شه په پنجات کښې
برباد یو ژوند حیاوی په حیا که دی یقین شی

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دی یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



درون چه میلمانه شي په مزه دَ سوات بهار ته
مالیان دَ حفاظت دَ پاره وِي ور ته موجود
پولیس حفاظتي دي تقسیم شوي هر دیار ته
جاڅي دَ ستړي مشئ میلمنو له ورکړي سود
نوکر کوي منځه دَ خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب دَ نوکرانو نه جوړې دَ حیا بود

خوشحاله میلمانه شي دَ هر قسمه په غم قات کښي
کاروَنه یې بې ریا دي په ریا که دِ یقین شي

روان چه میلمانه شي په مهم کښي دَ سلام
مطلب یې په زړه داوي چه یو اُوکړے ملاقات
منشیان کړي دَ صاحب ور ته دَ هر کلي کلام
اے ځوانه نوم دِ اُووایه چه تیر نه شي اوقات
ولاړ وي په توَل منشیان دے میلمنو ته لاس پنام
ترڅو چه میلمه نه کړي داخل نوم هغه ته ذبات

PUKHTO.NET



منشیان قول شریفان دَ حکمران دي په خپل ذات کښي
په جي قربان نکیا دي په نکیا که دِ یقین شي

نوم لیک چه مرزا کان کړي زر عادل سلطان له یې ورکړي
صاحب دَ باچي کار چه نوکر ته زر اُوکړي آواز
فلانے میلمه تشریف دِ زر دننه مقرر کړي
میلمه په ملاقات لکه دَ ګل کړي تن خنیراز
حضور دَ هر کلي قول دَ خولے ور ته هر کړي
مرشد غوندِ رازدار شي لکه پیر چه کړي نوک راز

احوال ور ته ښکاره کړه دلاور په دے ابیات کښي
ښه واوره داوینا به دے وینا که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي رښتیا که دِ یقین شي

---

دلاور غمګین ډاګي سوات

# دَ ناظرینو په خدمت کښې

خاص عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یافته
او ادبي طبقې ته دا ښه معلومه ده چه څو ښې
په ریاست کښې تر دې حینه پورې داسې
یو ادبي شاهکار او دَ ترقۍ او دَ عروج
په حقله داسې یو مشاعره نه وه شوې
دا اوله مرحله ده چه هر کله حضور
غازئ ملت والا همّت فرمانرواي
سوات دام اقباله دَ ترقۍ په بام باندې
کما ینبغي دَ سوات ریاست یو زلیدونکی
ښه اُو کړزوله، نو دَ ادیبانو، شاعرانو



په زړه کښې دَ خپل محبوب حکمران دَ محبت
جذبه را غله، او دَ دې خپل نیک محسن
دَ تحسین نه چپ نه شو پاتې کیدې نو لهذا
څو نړ. دَ ریاست ښاغلي محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقي
(تحصیلدار دفترِ حضور دام اقباله)
دَ ریاستِ سوات او غیره ادیبانو صاحبانو ته
دَ مشاعرې پیغام ورکړه نو بنا بران ښاغلو
شاعرانو خپل خپل کلام دَ پاره دَ شایع کولو
صدیقي صاحب ته را اولیږه، اګرچه دَ بعضو شاعرانو
شعر و نه دَ قافیو او دَ ردیف په لحاظ او دَ بحر په
توازن سره سمې نه خوري لیکن بیا هم صدیقي صاحب دَ
هغوئ دَ جذباتو قدر کوی او دَ خدمت دَ ناظرینو کښې پیش کوی

ستاسو ورور
فضل الرحمن فیضان عفی عنه محرر جناب مشیر ملک صاحب سوات

# دَ عقیدت ګلونه

راشه لږ اوګوره دا دَ عقیدت ګلونه
لکه بورا بویږ وه دا دَ صداقت ګلونه

نن ئې ورځ دَ تاجپوشۍ چه دَ والی صاحب ده
شو په پیشکش کښې ورته دا دَ حقیقت ګلونه

نن ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه په دې ورځ دَ محبت ګلونه

هر یو شاعر اظهار دَ ډیرې خوشحالۍ کړے دے
غازی ملت ته ئې ډالۍ کړه دَ عبرت ګلونه

وائې حبیب چه مونږ به نه یو د دا ګار به وی وتل
تل به باقی وی دا څو نږه دَ خدمت ګلونه

ښاغلے جناب حبیب الرحمن صاحب حبیب کالوج

بکتابت فضل الرحمن فیضان سوات عفی عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خند پړی او ظالم کوی فریاد
د زړۀ په وينو تـــکی دا زمــا قــلم ليکی

سيف الملوك صديقي

# زۀ انتظار کوُمه
# ستا د سترګو

زۀ انتظار کوُمه ستا د سترګو

سيف الملوك صديقي



زۀ انتظار کوُمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ته زما د سترګو

چې په ګلونو د دنيا کړم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو يمه يواځې ته يم
اوښکې بهيږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګوکښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنيا لټوُم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صديقیؔ خوښ دے په خلوت د دنيا
چرته به پټ شی د دنيا د سترګو

جان کتاب کور

JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**